**بسم الله الرحمن الرحيم**

**د رسنیو د مرکز قدرمنو مسئولینو، د رسنیو محترمو استازو او د هیواد ټولو شریفو خلکو ته!**

السلام علیکم ورحمة الله و برکاته:

۱: قال الله تعالی ((وَقَضَى رَبُّكَ أَلاَّ تَعْبُدُواْ إِلاَّ إِيَّاهُ)).

۲: قال الله تعالی ((إِنَّا جَعَلْنَاكَ خَلِيفَةً فِي الْأَرْضِ فَاحْكُمْ بَيْنَ النَّاسِ بِالْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعِ الْهَوَى))

**د قضاء د مشروعیت حکمت:** الله رب العزت دا نظام حاکم کړ چې په وسیله یې الهي عدالت تامین شي، په دې خاطر چې الله (جل جلاله) خپله قاضي او رسولانو او خلیفه ګانو هم د هغه الهي قضاوت او عدل تامین کړی دی.

دا څرګنده او روښانه ده چې د امتونو بقا، سعادت او ښه ژوند په عدالت پورې تړلی دی.

په الهي قضاء کې د مظلوم نصرت کېږي، د ظالم د ظلم مخه نیول کېږي، خصومات او فساد پکښې دفعه کېږي،د ټولنې او فرد فرد اصلاح پکښې کېږي، د نفس، مال، ابرو او حریت ساتنه کوي، د دنیا اصلاح او د اخرت نیمګرغي پکښې نغښتې وي، په نیکو امر او له بدیو څخه پکښې مخنیوی کېږي.

نړیوال دې د اسلام د دغه ستر نعمت (عدالت) د اسلامي هیوادونو په ځانګړې توګه د اسلامي امارت د عدالت احسان ومني، ځکه د نړۍ د قیام او بقاء یوازینی لامل الهي اسلامي عدالت دی.

**د شرعي قضاء حکم:** قال الله تعالی ((كُونُوا قَوَّامِينَ بِالْقِسْطِ))

شرعي قضاء فرض عین ده، دوهمه درجه کې فرض کفایي ده.

**قضاء خپلواکه او مستقله ده،** هېڅ دولتي مسوولین او غیر دولتي کسانو ته جواز نشته چې په قضائي چارو کې مداخله وکړي.

۱: دلیل: قال الله تعالی ((وَلَا يَجْرِمَنَّكُمْ شَنَآنُ قَوْمٍ عَلَى أَلَّا تَعْدِلُوا اعْدِلُوا هُوَ أَقْرَبُ لِلتَّقْوَى)).

۲. په قضاء کې د الله تعالی د اوامرو تنفیذ دی چې د حق او عدل معیار دی. اصلي او معنوي اطمینان، د هیواد ابادي په عدالت او د الهي قوانینو په تطبیق کې ده، ظاهري، صوري او فاني ابادي په تعمیراتو سره کېږي دغه ډول ابادي وفا او بقاء نه لري.

